د عامه اړيکو څانګه
د سره صليب نړيواله کمېټه
۱۹ اوينيو
۱۲۰۲ ژنيو
سويس
ټيلفون: ۰۰۴۱۲۲۷۳۰۳۴۴۳
فکس: ۰۰۴۱۲۲۷۳۴۸۲۸۰
press@icrc.org
http://www.icrc.org

د آی سي آر سي خبرپاڼه
د ۲۰۱۷ د فبروری ۱۷

افغانستان: د آی سي آر سي د کارکوونکو د بې قيد او شرطه خوشي کولو غوښتنه

ژنيو / کابل (آی سي آر سي) د سره صليب نړيواله کمېټه (آی سي آر سي) د خپلو دوه کارکوونکو د خوندي او بې قيد او شرطه خوشي کولو غوښتنه کړېده. دغه کارکوونکي هغه مهال وتښتول شول چې د هغوی پر کاروان د فبروري په ۸ مه په جوزجان ولايت کې برید وشو، چې په پايله کې يې د آی سي آر سي شپږ تنه کارکوونکي ووژل شول.

په افغانستان کې د آی سي آر سي د مرکزي نماينده ګی مشره، مونيکا زيناريلي وايي،" د تښتونکو څخه د بشري احساس په توسل سره غوښتنه کوو چې زمونږ د تښتول شوي کارکوونکي ژر او بغير د کوم قيد او شرط څخه خوندي خوشي کړي. او د داسي کړنې له سرته رسولو دې ډډه وکړي چې ښايي د هغوی ژوند په خطر کې واچوي. مونږ نه غواړو چې دغه غميزه لاپسي ژوره شي."

مونږ د ټولو مقاماتو او وسلوالو ډلو څخه چې په ساحه کې فعال دي غواړو چې تر حد زياته هڅه وکړي تر څو د سره صليب نړيوالي کميټې دوه تنه کارکوونکي په خوندي توګه خوشي کړي. او د داسي کړنې له سرته رسولو ډډه وکړي چې د هغوی ژوند په خطر کې واچوي.

د سره صليب نړيواله کميټه د درې لسيزو را پديخوا په افغانستان کې کار کوي، د جګړې قربانيانو ته په بې پلوۍ ډول طبي مرسته، خوراکي مرسته، د کورنيو د اړيکو ټينګول او په درنښت د مړو انتقال يې مهم فعاليتونه دي. دا يوه بې پلوه، ناپېلې او خپلواکه اداره ده چې يواځينی ماموريت يې بشرپالنه ده.

د آی سي آر سي د شپږو کارکوونکو د ناحقه وژلو او د دوه تنو له تښتولو وروسته، د دغې کمېټې ټول فعاليتونه په افغانستان کې ځنډولي دي.

د لا ډيرو معلوماتو لپاره لاندې شميرو سره اړيکه ونيسئ:

احمد رامين اياز (دري او پښتو)، آی سي آر سي کابل ، د اړيکې شميره: ۰۷۹۴۶۱۸۹۰۸
توماس ګلاس، (انګليسي او فرانسوي) آی سي آر سي کابل، د اړيکې شميره : ۰۷۲۹۱۴۰۵۱۰